آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۶/۰۹

# پرېږدئ چې سوله راشي

پرېږدی چې درد دهجران

پرېږدی چې غــم د بیلتون

پرېږدی چې ویــر د فراق

د جدایی او لـریوالی ویره

نـور د وصال پــه خوږو

سره مزه کړو.

** * **

پرېږدئ چې مرګ نه مخکی

د دی دنیا د ختمیدو نه پخوا

مینه زمونږه زړو کی

ځاله وکړی ځای ونیسی

درودونه پورته شی هوا ته لاړ شي
او د خوښی نغمې درو کی پیل شي

** * **



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

پریږدئ چی سوله راشی

واورو د باغ له هری ونې څخه

د بلبلانو ترانې ـ نغمې

خورې، خورې اوردې اوردې نغمې

پرئ چی خورئ کاندی مرغۍ وزرې

په خپله ځاله کی بچیو باندی

** * **

پریږدی چی حس کړویو د بل وجود

اوږده فراق نه وروسته

لکه د گل په څیر نازک لاسونه

یوبل ته غاړه کی امیل کړو سره

چی شی انجام د غمو

چی شی سهار د تیارو

مونږه ولاړیو څراغونه په لاس

غونچی گلونه په لاس

پریدی چی سوله راشی

مخه یی مه بندوئ

پریږدئ چی راشی سوله.

جون/۵/۲۰۱۹
ایجکس ـ تورنتو ـ کانادا